انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۰٤/۲۳

# دلته یو ورور بل مسلمان نه گڼی

ماته می ورور په تیلفون کی و وی:

ډیر می یادیږی مسافره وروره

له هغی ورځی نه، چی ته تللی یی

له هغی ورځی نه، چی ته له مونږه لری شولی

بیا تر داننه پوری

مونږ نه خوښي لیدلي، نه مو خندا کړیده

په هره ورځ یو، ژړیدلی وروره

په هره ورځ یو، کړیدلی وروره.

** * **

کله د بل کلی وحشی، په مونږ تیرئ کړیدی

کله د خپل کلی زور واکی، زورولی یو مونږ

کله راغلی دلته داسی کسان

چی د دی اولس خلک یی

ټول کافران بللی

د اولس ځوانان بچی یی، دی حلال کړی وروره

او ماشومان یی ورنه، په برمته نیولی.

** * **

کله له ورایه د توپونو مرمی

کله هوا نه د بمو غونداری

زمونږ له ختو نه په جوړو کورو

زمونږ په دښتو او په شنو کروندو

داسی بی واره بی نوبته راځی



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

داسی له پورته نه په ښکته راځی

لکه آسمان نه چی ږلی را اوری

زمونږ په ولس داسی ګولی را اوری

** * **

نو راته ګرانه وروره ! دلته هم کلی او هم ښار سوځی

دلته هم روغ او هم بیمار سوځی

زورآور نه سوځیږی ، خوار سوځی

مسافری سخته ده ، خو مسافر ښه یی

د دی سره اور کلی ته، نه به راځی

ځو در کی زور نه وی، د زور کلی ته نه به راځی

دلته کمزوری ځوک انسان نه ګڼی

دلته یو ورور بل مسلمان نه ګڼی

** * **

که در کی زور در کی قوت پیدا شو

نو بیا راځه دلته خطر نشته دی

که دی په متو کی طاقت پیداشو

نو کره خوله خو بیا په سوک سمیږی

که دی جامي د ابراهیم (ع) پیدا کړی

بیا نو ډاډه راځه د اور کلی ته

له اور پیدا اور لګونکی شیطان

د دی و لسونو سوزونکی شیطان

به دوه لاسی درته سلام وکړی

درته به ډیر ډیر احترام وکړی

بیا به د اور په ځای ګلونه کیدی

په کروندو کی به خپل زړونه کیدی

دوی اوس نه پلار او نه خپل ورور پیژنی

ځکه: چی دوی یواځی اور یواځی زور پیژنی

مارچ/۲۷/۲۰۱۷

تورنتو ـــ کانادا